سرلوڅ مرادزی

۲۰۱۲ / ۰۵ / ۲۹

# د جګړې د کورنيو لاملونو د حل وخت رسيدلی

لکه چې ښکاره ده ، افغانستان کې ناوتريخوالی او جګړه ، کورني او بهرني لاملونه لري . له هغه ځايه چې روستيو کې د بهرني لاملونو د کنترولېدو او مهارېدو په موخه ، د نړيوالو او افغانانو ګډې هڅې د ستراتيژيک تړونونو په بڼه ګړندی شوې حالات غوښتنه کوي چې له هغې سره همممهال د ناوتريخوالي او جګړې کورني لاملونه هم ، تر کنترول لاندې راشي او د بشپړ حل لپاره يې د ترلاسه شويو فرصتو څخه ګټه پورته شي .

د ليزبون د غونډې په پل ، د شيکاګو کنفرانس روسته چې هلته ، له ۲۰۱۴ کال پورې له افغانستان څخه د ناټو او ايساف د ځواکونو وتل يقيني شوي، اوس افغانستان د توکيو غونډې لپاره تياري نيسي. د توکيو نړيواله غونډه به له افغانستان سره د نړيوالي ټولني د مرستو دهمغږي کولو په موخه د روان کال د جولای په اتمه د جاپان په پلازمينه توکيو کې جوړه شي . البته دلته هم په افغان پلاوي غږ کيږي چې غونډې ته د افغانانو اړتياوې ورسوي او افغانستان ته له ډکو لاسو سره راشي .

بلخوا د نړی له سترو هيوادو په تېره بيا امريکا سره د افغانستان ستراتيژيک تړونو د لاسليک لړی چې څه مهال وړاندې پيل شوې وه ، د بشپړيدو په درشل کې ده . ويل کيږي چې د سيمي د ستر ګاونډي چين سره به هم د شنګهايي د غونډې په درشل کې چې د جون په ۶ او ۷ مه جوړيدونکې ده، دا شان ستراتيژيک تړون لاسليک شي .

دا ټولې سترې پېښې د ځنځير د کړيو په څېر ، يو په بل پسې د نږدې او لرې راتلونکې لپاره ، د افغانستان تګلوری او په نړيوال ډګر کې د هيواد دريځ او ځای ښکاره کوي . که دا پېښې په ټوليزه توګه په پام کې ونيول شي، ښکاره کوي چې د افغانستان د جګړې بهرني لاملونه سربېره له دې چې له پخوا زيات راسپړل او پيژندل کيږي ، ورو ورو مهار کيږي او تر کنترول لاندې راځي .

که څه هم په تېر کې د افغانستان جګړې بهرني لاملونه، د ناټو او ايساف په اند ، القاعده او نړيوال ترهګر راپيژندل کيږي، خو د افغانستان په اند د القاعدې او نړيوالو ترهګرو سربېره د پاکستان او ايران په دولتونو کې ځانګړې کړی چې خپلو هيوادو کې القاعدې او ترهګرو ته ځای ورکوي او هغوی ته د روزنې ، پالنې او وسلو شونتياوې برابروي او بيا يې د افغانستان کليو او ښارګوټو ته د ورانی او ډلوژنې لپاره راليږي، هم په دې لاملونو ورزياتيږي . بلخوا هيواد کې د جګړې د بهرنيو لاملونو په پيژند او تعريف کې هم د ناټو او افغان لوري نظر تل يوشان نه وو او کله ناکله دغو اختلافاتو د رسنيو تر کچې هم سر راپورته کړی، د بېلګې پتوګه افغان لوري تل ټينګارکړی چې ترهګر د افغانستان په کليو او بانډو کې نشته او که وي هم ، هغه له ګاونډيو هيوادو لکه ايران او پاکستان څخه راځي خو ناټو په دې اړه له چوپتيا سربېره تر اوسه په پاکستان او ايران کې د ترهګرو په ټکولو او له منځه وړلو کې د پام وړاقدام نه دی کړی . که څه هم د القاعدې سرخېل بن لادن ، د امريکا په يوه ناڅاپي يرغل د ۲۰۱۱ کال د مۍ په ۲ مه ، اسلام اباد ته نږدې په ايبټ اباد کې ووژل شو او يا تازه بېلګه يې د کونړ ولايت په وټه پور ولسوالۍ کې د يکشنبه په ورځ د القاعده د مشر، سخرالطايفي وژل دي چې نوموړی په مشتاق او نسيم هم مشهور و او د دې شبکې له دوو نورو فعالانو سره يو ځای ووژل شو. خو الظواهري د القاعده اوسنی سرخېل په پاکستان کې لا ژوندی ګرځي او فعاليت کوي . د سخرالطايفي وژنه ښئ چې له پاکستان څخه نړيوال ترهګر افغانستان ته اوس هم د افغان وژنې او ورانيو لپاره په فعال ډول تګ او راتګ کوي .

خو بيا هم د افغانستان په کورنيو چارو کې د لاسوهنو او تيريو او په دې اړه د ناټو له چوپتيا او ناڅرګند دريځ سره سره ، اوس له افغانستان سره د نړيوالو ستراتيژيک تړونونو لاسليک ، پاکستان او ايران ته يو غوڅ پيغام ګڼلای شو .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه ، ددې ترونو په لاسلیک سره افغانستان کې د جګړې بهرنۍ لاملونه مهار او کنټرولیږي .

همداراز په سیمه یز او نړیوال ډګر کې د افغانستان ځلیدا او بریاوو ، په کور دننه د تاوتریخوالي او جګړې د لاملونو په له منځه وړلو کې مساعده فضا رامنځته کړېده . نړیواله ټولنه او ډیری افغانان په دې نظر کې شریک دی چې پراخ اداري فساد ، بده حکومتولي ، د قانون ناپلیتوب ، د نیشه توکو پراخ تولید او ترافیک ، بېوزلي ، بېکاري ، د ښځو حقوقو ته په دوهمه درجه کتنه د تاوتریخوالي او جګړې هغه کورني لاملونه دی چې د جګړې بهرني لاملونو تبرګې ته یې لاستي ورکړی دی. اوس ددې وخت رسیدلی چې د القاعده ، نړیوالو ترهګرو او د دوی د ملاتړو، یانې پاکستان او ایران په مهاریدو سره باید د جګړې کورنیو لاملونو حل ته پاملرنه ورزیاته شي .

د ناټو مشرانو هم له افغانستان سره خپلې پوځي او اقتصادي مرستې د افغانستان په دولت کې د فساد له مخنیوي، ښې حکومتولی، د بشري حقونو په تېره بیا د ښځو د حقونو له رعایت او د روڼ انتخاباتي سیستم له رامنځته کولو سره تړلي دي .

بلخوا افغان دولت ته اوس کافي فرصت ترلاسه شوی، چې د هیواد سهیل او ختیځ کې د ګڼو ولسونو ناراضیتوب ته ښې غوږ ونیسي او هغه واټن چې د دولت او دغو ولسونو ترمنځ رامنځته شوی، لرې کړي . په دغو سیمو کې دولت د خپل ناوړه سیاست او ناوړه کادرونو په ګمارلو سره ، ولس له دولته مرور کړی او په لویلاس یې هغه د نړیوال تروریزم ، پاکستان او ایران غیږی ته ، وراچولی دی .

همداراز په دولت کې د نظارشورا او جمعیت ناکنټروله او له بریده زیات واک ، ولسونه له مرکزي دولته بېزارکړي . که نظارشورا اوس هم داسې نخرو ته دوام ورکړي لکه څو ورځې مخکې چې یې پر ولسي جرګې یوه ملي ضد پریکړه ترڅو د یوه ملي غدار په نوم یوه ورځ ونوموي او هغه یې عمومي رخصت اعلان کړه ، نورهم ولسونه له دولته کرکجنوي او ملي بېلتون ته یې تېل وهي . همداراز د مقاومت او جهاد په نوم پرلپسې سوداګری او په دولت کې د مقاومت خپلو او جهادیانو زورواکمنی ، د کاراهل ته د کار سپارلو مخه نیولې ده . د دولت لوړې او کارنده څوکی د پوهې، تجربې او وړتوب پرځای مافیایی جهادي لنډه غرو ، ډاکوانو او جګړه مارو ته په اجاره ورکول کیږي.

هغه افغانان چې دولت څخه په بېلا بېلو لاملونو مرور دي او خپله مرورتیا د نورو بنو ترڅنګ په تاوتریخوالي هم ښکاره کوي خو د القاعده او نړیوال تروریزم سره اړیکي نلري او د ایران او پاکستان په لاربښوونه خپل هیواد، نه ورانوي اوغواړي دولت سره یوځای شي په دولت کې د نظارشورا او جمعیت زیات واک یې ، مخه ډب کړیده . بېځایه نه ده د انګلیستان د کارګر ګوند مشر اد میلیبند افغانستان ته د خپل دوه ورځني سفر په پای کې وواییی ، نړیواله ټولنه باید د تلپاتې سیاسي حل په لار کې له پخوا ډېرې هلې ځلې وکړي . نوموړي دا اندیښنه هم ښودلې په ۲۰۱۴ کال د ناټو جنګیالیو له وتلو روسته کیدای شی ، دا هیواد یوځل بیا د « ناکام دولت » تر کچې سقوط وکړي .

په کور دننه ستونزو کې ځینې داسې افغانان هم ونډه لري چې په دولت کې لوړې او واکمنې څوکی لري خو د ایران ، پاکستان او نورو بهرنیانو لپاره د ملي ګټو خلاف جاسوسي کوي. ځینې سرچینې دعوه کوي چې ایران د افغانستان او امریکا د ستراتیژیکو همکاریو د سند د تایید د مخنیوي په موخه ۲۵ میلیونه ډالر ځانګړي کړي وو او هم یې ولسي جرګې غړي حضرت علي ته په دې موخه پیسې ورکړې وې چې هغه یې په نورو وکیلانو وویشي .

اوس د ټولو سوله پالو او دموکراتو افغانانو دنده ده چې، بې له ټوپیره د رامنځته شویو مساعدو فرصتونو څخه په ګټه د تاوتریخوالي او جګړې د کورنیو لاملونو په له منځه وړلو کې یو موټی شي . له بده مرغه د هیواد ځینې روشنفکران او دیموکراتان په دې اند دي چې د زور او جګړې له وسایلو څخه هغه هم د وسلوالو طالبانو په لاس، ګټه واخیستل شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

. البته ددې نظر لوی تاوان دا دی چې له ځینو طالبانو پرته چې هغه له دولت څخه د مرورو افغانانو ډله جوړوي او باید د دوی غوښتني ومنل شي او په دولت کې ورته وړه ونډه ورکړل شي، د نورو طالبانو هویت ناڅرګند او د پاکستان او ایران په اخور تړلي دي .

که د ملي ستونزو د حل لپاره د تاوتریخوالي څخه کار واخلو او هغه تبلیغ کړو ، موږ بېرته د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۶ کلونو پیرته ورننوځو چې اوس نه په کور دننه او نه په نړیواله کچه په داسې چاپیریال کې ژوند کوو . که زموږ ځیني روشنفکران طالبانو ته پنا یوسي او د کورنیو ستونزو د حل لپاره سترګې د طالبانو ملاتړ ته ونیسي ، موږ په حقیقت کې د نورو لپاره هم دا زمینه برابروو چې هغوی نظارشورا ، جمعیت او نورو سرېخورو ډلو ته پنا یوسي. په دې صورت کې به جګړه او کورنی تاوتریخوالی تل ژوندی وی، توندلارې ډلې به په ملت او هیواد سوداګري کوي او موږ به یې یوازې ننداره کوو .څه باید دا وشي چې په هیواد دننه د هر ډول جګړې او تاوتریخوالي مخه ونیول شي . ملي ستونزې یو په یو بیان او ښکاره شي او د اوسني چاپیریال د ارونو سره سم ورته د حل لار ولټوو. په افغان دولت کې مافیایي جهادي ډلګی دومره غښتلي نه ده ، ښایی شمیر یې ۱۰۰ ـ ۲۰۰ تنو څخه زیات نه وي چې موږ هغه د سوله یزه مبارزو په لارو ، لرې نکړی شو. بلخوا ستونزه ټوله هلته نه ده ، بلکې لویه ستونزه د سوله پالو او دیموکراتو ځواکونو بېتفاوتي او بې اتفاقي ده چې د مافیایي کړیو عمر یې اوږد کړیدی .

نن نړیواله ټوله هم په سیمه او افغانستان کې د پاتېدو لپاره په توندلارو مذهبي ډلو او افغان دولت کې په جهادي سرتمبه ډلګیو ډډه نه شي لګولای . روشنفکران باید دغه سنګر له توندلارو څخه ونیسي.

اوس ددې وخت رسیدلی چې په کور دننه د ټولو ناخوالو او فاسدو کړیو په وړاندې هڅې غښتلي او پیاوړې شي .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ